# Family Voluntary Services (د کورنۍ رضاکارانه خدمتونه)

د ملاتړي خدمتونو او سرچینو سره د اړیکو له لارې د کورنیو پیاوړتیا/تقویه کول



Washington State Department of
CHILDREN, YOUTH & FAMILIES

## که چېرې زه د خپلې قضیې په اړه اندیښنې لرم، چې د **FVS** له کار کوونکي سره د حل وړ نه وي، نو په دې صورت کې له چا سره اړیکه ونیسم؟

که چېرې خپلې قضیې ته د رسیدنې د څرنګوالي په اړه شکایت یا اندیښنې لرئ، د خپل FVS قضیې د کار کوونکي له سوپروایزر سره اړیکه ونیسئ. که چېرې ستاسو اندیښنو ته اوس هم ځواب نه دی ویل شوی، تاسو کولای شئ د خپلې سیمې له مدیر سره اړیکه ونیسئ.

تاسو کولای شئ
په هر وخت کې د مرستې په موخه د **800-723-4831** یا **360-902-8060** شمېرې له لارې Office of Constituent Relations (د مؤکل د اړیکو دفتر) ته زنګ ووهئ.

د Washington State Family and Children's Ombuds office (د واشنګټن ایالت د کورنۍ او ماشومانو د عامه محتسب/څېړنې مامور دفتر) د Department of Children, Youth, and Families (د ماشومانو، ځوانانو او کورنیو د څانګې) د فعالیتونو اړوند اندیښنې او شکایتونه ترلاسه کوي او دوی د اندیښنو د څېړلو واک لري. دوی ته په **800-571-7321** شمېره اړیکه نیول کیدی شي.

**د لا زیاتو معلوماتو لپاره مراجعه وکړئ:**
**https://dcyf.wa.gov/services/child-welfare-system/cps**



### د قضیې کارکوونکی معلومات:

نوم: ______________________________

ټلیفون: ____________________________

بریښنالیک: __________________________

### د قضیې کار کوونکي د څارونکي/سوپروایزر معلومات:

نوم: ______________________________

ټلیفون: ____________________________

بریښنالیک: __________________________

**خپل محلي DCYF دفتر ومومئ:**

د QR کوډ سکین کړئ، یا لاړ شئ:
**https://apps-ca-ext.dcyf.wa.gov/CAOfficesPub/offices/general/OfficePick.asp**

که چیرې تاسو د دې خپرونې وړیا کاپیانو په بدیل بڼه یا ژبه کې لرل غواړئ، نو مهرباني وکړئ د *DCYF* اساسي اړیکو سره په *1-800-723-4831* شمیره یا بریښنالیک له لارې اړیکه ونیسئ ***communications@dcyf.wa.gov***.

DCYF PUBLICATION CWP_0035 | DSHS 22-1751 PA (03-2025) Pashto



## د Family Voluntary Services (FVS، کورنۍ رضاکارانه خدمتونه) څه شی دي؟

FVS **یو داسې پروګرام دی چې والدینو/**قانوني سرپرستانو ته اجازه ورکوي چې د خپل (خپلو) ماشوم (ماشومانو) د خوندیتوب، روغتیا او هوساینې د اړتیاوو پوره کولو اړوند خدمتونو کې ګډون وکړي.

د FVS هدف د کورنیو سره ملاتړ کول دي چې په هغو خدمتونو کې دخیل شي چې د کورنۍ اړتیاوې پوره کوي پداسې حال کې چې کورنۍ پیاوړې کوي او یوځای ساتي.

د قضیې کارکونکي د کورنیو سره کار کوي ترڅو د ځواک، اړتیاوو او د ماشومانو د خوندیتوب ارزونه بشپړه کړي. کورنۍ په هر وخت کې Department of Children, Youth, and Families (د ماشومانو، ځوانانو او کورنیو څانګه,DCYF) سره کار کول ودرولی شي. که چیرې یوه کورنۍ د FVS خدمتونو بندول غوره کړي، نو د قضیې کارکونکي اړ دي چې د قضیې د بندولو دمخه د خوندیتوب او خطر کچه وارزوي. که چیرې د ماشوم د خوندیتوب پورې اړوند څه نه پوره کیدونکې اړتیا وي، DCYF د انحصار عریضه ثبتولو/درج کولو سره د محکمې د مداخلې غوښتنه کولی شي.

## FVS څه ډول کار کوي؟

FVS د CPS قضیې وروسته وړاندیز کیدی شي کله چې خدمتونه او سرچینې د کورنیو سره د ماشوم خوندیتوب او د کورنۍ ثبات ډاډمن کولو لپاره ملاتړ کولی شي.

همداراز کورنۍ کولای شي د اړتیا په صورت کې له DCYF سره په اړیکې نیولو سره د FVS د خدمتونو غوښتنه وکړي.



## توقعات/تمې

### د FVS د قضیې کار کوونکي له ستاسو څخه څه تمه لري

- ترڅو د ارزونې په پروسه کې برخه واخلي او د خپلې کورنۍ هوساینې او اوږدمهاله ثبات پیاوړتیا لپاره د پلان په جوړولو کې مرسته وکړي.
- تر څو د خوندیتوب پلان تعقیب کړي (که چېرې تاسو یې ولرئ).
- ترڅو د خپلې کورنۍ هوساینې او اوږدمهاله ثبات پیاوړتیا لپاره په خدمتونو کې برخه واخلي.
- تر څو د FVS کار کوونکي ته اجازه ور کړئ چې ستاسو له ماشوم سره په خصوصي ډول ووینې.
- تر څو د FVS د قضیې له کار کوونکي سره په منظم ډول ووینې.
- تر څو د FVS د قضیې کار کوونکي ستاسو په حالت کې د هر ډول حالت څخه خبر و اوسي.
- تر څو ستاسو او د ماشومانو لپاره مو د معلوماتو افشا کول لاسلیک کړي.
- ترڅو د خپلې کورنۍ قوتونه، اړتیاوې او شرایط/حالات شریک کړي.

### تاسو د خپلې FVS قضیې له کار کوونکي څخه څه تمه لرئ

- دوی به ستاسو او ستاسو کورنۍ سره په درناوي چلند وکړي.
- تر څو ستاسو سره کار وکړي او د ماشومانو د خوندیتوب لپاره مو پلان جوړ کړي او ډاډ ترلاسه کړي چې ستاسو ماشومان خپلې اساسي اړتیاوې پوره کوي.
- دوی به ستاسو او ستاسو د کورنۍ لپاره ځانګړي خدمتونه وړاندیز کړي، لکه د والدینو زده کړه/تعلیم، مشوره ورکول؛ یا درملنه. د خدمتونو او سرچینو د ډیر جامع لیست لپاره د DCYF ویب پاڼې ته مراجعه وکړئ.
- دوی به ستاسو د کورنۍ سره او ستاسو په کور کې د ماشومانو سره په میاشت کې لږترلږه یو یا دوه ځله په خصوصي ډول ووینې.
- دوی به ستاسو او ستاسو د کورنۍ د پرمختګ په اړه د بهرني نظر/لیدلوري ترلاسه کولو لپاره د خدمتونو چمتو کونکو، د ټولنې شریکانو، کورنۍ او ملګرو سره (ستاسو په اجازې سره) اړیکه ونیسي.
- دوی به له تاسو سره د شخصي او د نوي زیږیدلي ماشوم/کوچني ماشوم خوندیتوب په اړه خبرې وکړي.
- که چېرې ستاسو ماشوم په سوداګریزه توګه د جنسي استثمار شکمن وي، دوی به تاسو سره د ارزونې بشپړولو او خدمتونو وړاندې کولو کې مرسته وکړي.
- دوی به تاسو وهڅوي چې د ملګري متحدینو سره کار وکړئ یا هرکله چې شتون ولري د ملاتړ ډلې کې ګډون وکړئ.